سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰٦/۲۳

# یوه پیړۍ ژړا

نور څومره وژاړم، چې غم مې له سینې لرې شی

صبرشم څومره، چې غماز دې له کوخې لرې شی؟

څومره نور پاتې، منتظر شم چې دې مخ و وینم

له سپوږمۍ مخ نه دې، د وریځو دا پردې لرې شی؟

غواړی تر هغه وخت، له سترګو اوښکې و څڅوم

چې مې په دواړو اوږو، ناستې پرښتې لرې شی؟

پرون مې ولید چې دې، لاس د رقیب لاس کې ورکړ

اوس خنګه لار نه، ستا د وړلو قافلې لرې شی؟

ماته خو دې روانه لوبه کی، څه چل ښکاره شو

باور مې نشی، که له سر مې تمانچې لرې شی

خیر دې یوه پیړۍ به، نوره هم ژړا وکړمه

خو، که له زړه، د پتې ویرې وسوسې لرې شی

چې کلیوال ته مې، کوم زیری د سبا د پاره

د خوښۍ زیری شی، د غم به خاطرې لرې شی

جون/۱۵/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کانادا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com